صیام الدین « پسرلی »

د نشر نیټه : ۲۱ اکتوبر ۲۰۱۲ میلادی

# د ختیځ ادبي بهیر د ۱۴ مې اونیزې غونډې راپور



ختیځ ادبي بهیر خپله ۱۴ مه او نیزه غونده د ( ۱۳۹۱) کال د تلې میاشتې په ۲۹ مه په جلال اباد ښار کې د میدوتیک په انګړ کې ترسره کړه.

دا غونده سهار نهه بجې پیل شوه او غرمه ناوخته پای ته ورسیده.

غونده د قاري عبدالله سهار لخوا د قران پاک د خو مبارکو ایاتونو پرتلاوت پرانیستل شوه او د بهیر د یو غړي حسنزي د پلار له وفات له امله ټولو بهیروالو هغه او د هغه کورنۍ ته د دعا لاسونه لپه کړل.

د غونډې مشري ډاکټر بشیراحمد پرهر کوله او د کوربه پرخوکی ورسره احمد بختیار ساحل ناست و.






عرفان الله بیدار چې د تل په څېر یې د دریځ چارې پرغاړه درلودلې په سرکې یې ایمل مړوند ته وار ورکړ او د تېرې اونۍ ګزارش یې بهیروالو ته واوړولو.
پر ګزارش د خبرو پیل غزت الله ځواب وکړ، نوموړي وویل: د مړوند ګزارش لیکل او د هغه د لوستلو انداز دواړه د ستاینې دي، خو زما په باور که هڅه وکړي او د ګزارش په لیږ کې هره اونۍ نویوالی راولي دا به یې کمال کړی وي.
ضیاالدین همت بیا د ځواب په ځواب کې وویل : د مړوند د ګزارش لیکلو کمال په همدې کې دی، چې دی هره اونۍ په ګزارش کې نویوالی روالي او هر ګزارش یې له بل سره توپیر لري.
همت مل دا پله هم ګزارش وستایلو او وې ویل، چې د ګزارش لیکلو په برخه کې بهیر ډېر پر مخ تللی او مړوند په ډېر لګ وخت کې د ګزارش په برخه کې ډېر کار کړی دی.
صیام الدین پسرلي هم د مړوند د ګزارش لیکلو دود او طریقه وستایله او زیاته یې کړه، چې د مړوند د ښه ګزارش لیکلو ترڅنګ هغه ډېر تیز او پروخت ګزارش چمتو کوي .
په ګزارش ملګرو ډېرې خبرې ونه کړې او د بهیروالو لخوا یې د لیکلو او لوستلو دواړو ستاینه وشوه.
د غونډې دویمه برخه کرکتنې ته بېله شوې وه، چې حضرت یوسف یوسفزي خپل غزل کرکتنې ته وړاندې کړ او ناستو ملګرو پرې د خپلو اندونو څرګندونه وکړه.
د غزل مطلع داسې وه:
ما که هیڅ نه د ي کړي تا لپاره
وواپه تا څه کړي مالپاره
محمود خزان وویل کې چېرې د ( تا ) پرځای ستا راشي له انده یې ښکلی به وي .
عبدالله سهار بیا د مطلعې په سپور والي وګړیدو وې ویل د غزل ترټولو مهیمه برخه د غزل مطلع ده، چې باید ښکلې وي او په ښایستو کلیمو کې رانغاړل شوي وي، خو د یوسفزي د غزل مطلعه ښه نه ده او ډېره سپوره ده .
غزت الله ځواب هم د سهار سره تریوه بریده همغږی و، په باور یې یوسفزی ډېر ښه شعر لیکي او دا مطلعه هم ډېره ښه محاوره ده، خو لګه سپوره ده او په ستغ ډول یکې د توروواو کلیمو کارونه شوې، چې له امله یې د بیت شعریت زیان من کړی دی.
صاحب الله عابد بیا مطلعه وستایله، هغه وویل دې ډول د تورو کارونې ته موږ په ادبیاتو کې ادبي مقابله وایو، چې نیم بیتې د یو بل تزاد وي او یوسفزي همداسې یوه د کلیمو کارونه کړې، چې ادبي مقابله یې رامنځ ته کړې او بیت ته یې ښکلا ورکړې ده .






ډاکتر بشير احمد پرهر وويل په بيت کې شعري ښکلا ته پام نه دی شوی په باوريې که دا بيت داسې شي، نو ښه به راشي: ما که هيڅ نه دي کړي تا لپاره ـــ ما به نو څه کړي وي ما لپاره.
د غزل پر مطلعه د ملګرو له خبرو ورسته وياند دويم بيت ولوستلو، چې داسي و:
تا د خپل ځان لپاره هيڅ ونه کړل
ته به نو څه وکړې زما لپاره
صداقت غورځنګ وويل د دې بيت په ګډون ټول غزل ښه او روان دی، خو په باور يې د تکراري کليمو کاروني يې ځای ځای خوند خراب کړی دی، نوموړي وويل د کليمو ډېر تکرار د شعر خوند له منځه وړي.
محمود خزان بيا د غزل دا بيت خوښ کړ.
ځواب هم د بيت ستاينه وکړه او وړاندې يې وويل: (( زما په اند په دې بيت کې شاعر ډېر ښه انځور وړاندې کړی ځکه ترټولو ځان مهيم دی چې يوڅوک د خپل ځان لپاره څه نه شي کولی نو د بل چا لپاره به يې څنګه څه کړي وي او ډېر ښه پيغام له ځان سره لري.))
د غزل دا بيت د ډېری ملګرو لخوا وستايل شو او دريځوال دريم بيت ته لاړو داسې و:
دا ته چې وايې راته مه راګوره
سترګې به وباسمه ستا لپاره
ځواب وويل ښه بيت دی خو مبالغه پکې شوې ده، د ځواب دې خبرې سره څوک همغږي نه او يو شمېر ملګرو يې په ځواب کې وويل، چې په شعر کې مبالغه ستونزه نه پيدا کوي او ډېرو لويو شاعرانو هم دا کار کړی دی.
همت مل بيا بيت وستايلو او زياته يې کړه، چې په دې بيت کې يې خپل جانان ته د سترګو ويستلو خبره د اختار په ډول کړې ده ياني د غوسې نه يې ورته ويلي، چې وايې مه راګوره نو زه سترګې وباسمه ستا لپاره.
انجنير راحت ګل زيارمل بيا په دې بيت کې حيال او تصوير تکراري وبلل وې ويل: تردې وړاندې هم ډېرو نور شاعرانو دا حيال او تصوير په تورو او کليمو کې وړاندې کړی اودلته ورته يو تکراري حيال ښکاره شو. هغه زياته کړه نوي ځوانان دې هڅه وکړي چې نوي او تازه تصويرونه پيدا کړي.
وروسته څلور وويل شو چې داسي و:
سر مې په لاس کې دی نيولی راغلم
ستا د خوړې مينې سودا لپاره
عبد الله سهار بيا بيت خوښ کړ او وې ويل دا بيت ډېر ښه بيت دی او يو تاريخي شاليد لري په وينا يې د انسان په ټول تن کې ترټولو قيمتي او ارزښتمند شی سر دی، خو دلته يې د خپل اشنا نه خپل

هره ليکنه د ليکوال خپل نظر دی او خپله دليکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سايت « ارګان نشراتی صلح و تفاهم سعيد افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است

سر قربان کړی دی سهار د بیت د تاریخي شالید په اړه دلته د یوسف ع کیسه یاده کړه او بیت ټولو خوښ کړ.
پینځم بیت د غزل داسي و:
زما شعرونه اولادونه زما
رالویوم یې د سبا لپاره
ځواب وویل شعرونو ته د اولادونو ترکیب اول کاروان کارولی دی، خو دلته په رلویومه یې د سبا لپاره یو نه شومه .
ډاکټر پرهر یې ځواب کې وویل چې د یوسفزي موخه دلته د رالویولو نه د شعرونو د پخولو ده.
او د غزل ور ستی بیت یا مقطع په دې ډول وه:
زه یوسفزی ورسره بیا پحلا شوم
خدایه فقط ستا د رضا لپاره
همت مل په بیت کې د پیغام په اړه خبرې وکړې په وینا یې د خلکو او مسلمانانو لپاره پکې ډېر ښه پیغام وړاندې شوی دی، چې یو بل سره د الله د رضاه لپاره پخلا شي.
راحت ګل زیارمل هم د د مقطعې د پیغام په اړه خبرې وکړې او وی وېل په دې اړه د رسوالله ص یو حدیث شریف هم شته، ((هر هغه څوک چې د الله د رضا لپاره د یو چاسره مینه کوي، هر هغه څوک چې د الله د رضا لپاره یو چاته ډالۍ ورکوي، هر هغه څوک چې د الله د رضا لپاره د یو چانه یو شی منع کوي او هر هغه څوک چې د الله د رضاه لپاره د یو چانه کرکه کوي، دوی به جنت ته داخلیږي.))
د زیارمل په وینا په دې بیت کې د خلکو په ځانګړې توګو د مسلمانانو لپاره په کې ډېر ښه پیغام وړاندی شوی دی.
د غزل په ورستي بیت ډېرې خبرې ونه شوې او په ټوله کې د بهیروالو لخوا د یوسفزي د غزل ستاینه وشوه او هغه ته یې نیکي مشورې او د لا پرمختګ دوعا وکړه.
د دریځ وال لخوا خپله د شعر وینا وال ته بلنه ورکړل شوه حضرت یوسف یوسفزي د ټولو ملګرو نه مننه وکړه، چې د هغه پر شعر یې خپل نظرونه ورکړل، وې ویل دومره تمه یې د خپل غزل نه وه، چې ملګري به پرې دومره خبرې کوي او بیا یې په شعر د مبالغې په اړه د بېلګې لپاره د څو نوموتو شاعرانو ځینې بیتونه ګډونوالو ته وویل.
د غونډې په دریمه برخه کې یوه ازاده اخترېزه مشاعره وشوه، چې په په ننګرهار کې د تابان ټلویزون لخوا ثبتیدله او لاندې کسانو پکې خپل شعرونه وویل:
جمال ثاقب، صداقت غورځنګ، صیام الدین پسرلی، زمری عزیزي، عرفان الله بیدار، ایمل مړوند، عبدالقدیر ملنګ، حضرت یوسف یوسفزي، انجینر طارق تسل، احمد بختیار ساحل، صاحب الله عابد، انجینر غزت الله ځواب، معروف، بریالی شباب، شفیق الله نایل، اکرام الله اکرام، انجینر راحت ګل زیارمل، محمد جواد شباب ماشوم، حالد ټکان، اکمل ظاهر، جانان زمری، کمال الدین اظهار، عبد الله هوډ، سلطان غزیز عزام، سمندر ساحل، فرید الله ملاتړ، خاورې منت بار، کفیل نیازی، ډاکټر بشیر احمد پرهر، عبدالله سهار، او ضیاالدین همت مل.
تر مشاعرې ورسته د غونډې مشر مېلمه ډاکټر بشیر احمد پرهر دریځ ته وبلل شو نوموړي غونډه ښه وارزوله او زیاته یې کړه نن ډېر خوښ دی، چې ډېره موده ورسته د داسي یو ادبي ناستي ویاړ لري هغه وویل د دوی په وخت کې هم غونډې کیدلې، خو داسي په حلاص مټ دوی خپل ادبي کړنې نه شوې تر سره کولې، په وینا یې نن د ډېرې خوښۍ ځای دی، چې موږ په داسي یوه شانداره ادبي غونډه کې سره په بېغمه زړه راټول شوي یو.
ډاکټر پرهر د ټولو بهیروالو نه هیله وکړه ،چې د بهیر او خپل شحصي کاروڼه سره جلا کړي او بیرونی مسلې دې بهیر ته نه رواړي ترڅو بهیر همداسې په یو سپیڅلي اراده مخکې لاړ شي .

هغه بیا هم تېنګار کولو او له ټولو یې غوښتنه کوله، چې بهیر ته دې د یو جلا کار په ډول فکر وکړي او هره اونۍ دې په غونډو کې په خپل ټاکلي وخت ګډون وکړي .







پرهر وویل په دې ورستیو کې د نویو پرمختګو سره داسې فکر پیدا شوی وه، چې ګوندې شعر کمزوری شوی او د حتمیدو خواته روان دی، خو زه خوښ یمه او د داسې غونډو په شتون او جوړیدو کې به شعر ډېر پرمختګ وکړي او نوي ځوانان به یې تر موږه ښه وپالي .
د ډاکټر بشیر احمد پرهر ترخپرو ورسته غونډه غرمه مهال د دوعا په کولو سره پای ته ورسیده .

صیام الدین « پسرلی »

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org